# جنګي سپي


Ketabton.com

لیکوال : محب الله زغم

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د کتاب پېژندنه :


| | |
|---|---|
| د کتاب نوم : | جنګي سپی |
| ليکوال : | محب الله زغم |
| انځورګر : | الحاج عبدالهادی تپاند |
| اوډون : | حفيظ الله ياور |
| د چاپ کال : | ۱۳۸۷ |

www.Ketabtoon.net


**ډالی :**

خپلو زامنو محبوب الله ، روهين او رښتين ته يې په مينه ډالی کوم

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

جنګي سپی د خپل کور مخې ته ولاړ و. د هغه زنځير په ونې پورې تړلی و. مخې ته یې په یوه لوی غاب کې یوڅه غوښې او هډوکي پراته وو. څنګ ته یې د تالي په تل کې شېدې پاتې وې. یوه کوچنۍ سپۍ تالي ته ورنژدې شوه. خپله ژبه یې راایستلې وه. جنګي سپي خپله لویه خوله خلاصه کړه ، تېرې داړې یې ښکاره شوې. هغه وغرېده: څه کوې ؟



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپی لکی و ښوروله او ویې ویل : وړې یمه ، شیدو ته مې زړه کېږي.

جنګي سپي وویل : ځغله ، مفت خوره. خاوند خو مو هسې چا ته شیدې نه ورکوي.

وړې سپی په حیرانی وویل : نو څنګه یې ورکوي ؟

جنګي سپي خپله پلنه غاړه هسکه کړه او په ډډ غږ یې وویل : زه خویې همداسې ګټم ، همداسې یې څټم. ها بله ورځ مې په جنګ کې ورته بلا ډېرې پیسې وګټلې. ته خو یې هسې د خپلې لور د سات تیری لپاره راوستې یې که نه ته خو هیڅ په درد نه لګېږې.



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپی ورته زارۍ وکړې خو هغه ورته شیدې ورنکړې.

یوه ورځ سهار د هغوی ښښتن دجنګي سپي زنځیر خلاص کړ او سراچې موټر ته یې پورته کړ. هغه په موسکا سپی ته وویل: دا دی ما بیا جنګ ته بیایي ، زه به بیا ورته پیسې وګټم. تا غوندې مفت خوره خو نه یم.

سپی د شیدو تالي ته وکتل او په زړه کې یې وویل چې کاشکې زه هم غټه وای او په جنګ کې مې پیسې ګټلای.



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

غرمې مهال موټر انګړ ته راننوت. سپی یې راکښته کړ. د هغه ورمېږ په وینو سور و. سر یې ټیټ نیولی و. لنډه لکۍ یې ځړېدلې وه. سترګې یې سرې او تنګې وې. ژبه یې راوتلې وه او ژر ژر یې سا کښله.

هغه یې په ونې پورې وتاړه. خاوند یې کوټې ته لاړ. د واسلینو ډبلی یې راوړ. د سپي د غاړې ټپونه یې پرېمینځل او بیا یې په واسلینو غوړ کړل.



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

روسته سپي هڅه وکړه چې خپل ټپونه وڅټي ځکه چې د هغه په ناړو کې داسې مواد شته چې زخم رغوي او درد يې کراروي. خو چې هر څه يې کول ژبه يې ټپونو ته نه رسېدله. ډنګره سپۍ لرې ولاړه وه او ورته کتل يې.

د وړې سپۍ زړه پرې وسو. ورنژدې شوه. په وېرېدلي غږ يې وويل : زه يې درته وڅټم ؟

سپی چې له درده تاوېده راتاوېده کېناست او ويې ويل: ډېر خوږېږي.

سپۍ د هغه ټپونه تر هغې وڅټل چې سپی وېده شو.



Downloaded from: www.ketabton.com


(c) ketabton.com: The Digital Library

مازدیگر چې هغه راویښ شو مخې ته یې د شیدو ډک تالی ایښی و. ژبه یې په شیدو کې ډوبه کړه خو بېرته یې سر پورته کړ. سپۍ ته یې ورناري کړې: راشه شیدې وڅښه.

سپۍ وویل : نه ، دا خو ستا برخه ده. تا به پیسې ګټلې وي.

سپي وویل : ما جنګ بایلود. نن مې پیسې نه دي ګټلې. خو ستا ملګرتیا مې وګټله. نور به زه او ته دواړه په یوه کاسه کې ډوډۍ خورو.

څو شیبې وروسته دوې ژبې د شیدو په تالي کې غوټه وې ، یوه د سپي او بله د سپۍ.



Downloaded from: www.ketabton.com

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**